ډاکتر رحمت ربي ځيرکيار او ډاکتر محّمد داود ميره کي

۰۵ نومبر ۲۰۱۵

## زه دا حق نلرم چې افغانستان ته خپل کور ووایم

### د ملي تاريخ ځلانـده ځيره افضل خان لالا له نړی لاړ

سياستپوه او حقوقپوه افضل خان لالا(۱۹۳۱- ۱ نومبر ۲۰۱۵ ) په ټول افغانستان کې زړه ور او منطقي واکيالی (سياستمدار) د سوات په درشخيله کې خاورو ته وسپارل شو. افضل خان لا لا د ميراني او سولې په غيږ کې لوی شوی و او له دې امله ورته د ټول افغانستان پښتنو د «لالا» (مشر ورور) په سترګه کتل. د ۱۹۷۹ د دسمبر په وروستيو کې شوروي اتحاد په افغانستان بربنډ يرغل وکړ. له دې املـه زه (ځيرکيار) د خپلې کورنی سره پياده د پکتيا/ترې منګل له لارې د ۱۹۸۰ د مې په لومړی يا دوهمه نيټه له کابل نه د افغانستان د ژمي پلازمينې(پايتخت) پيښـور تـه ورسيدلم. هلته مې د صدر بازار په ګرين هوټل کې واړول. يو اروپايي اخبار (په ګومان سره د سويس «نُيې ځيوريښر ځايتونګ») زما په اړه څه ليکلي و، او ډاکتر ماما کبير ستوري په دغه اخبار کې لوستلي وو. هغه له جرمني نه افضل خان لالا خبر کړی و چې زه پيښور ته رسيدلی يم او بايد چې زما د حفاظت تابيا وکړي.



افضل خان لالا او ډاکتر کبير ستوری

شخصاً د فخر افغان باچا خان سره زما( ځيرکيار) کورنی راشه درشه لرله. هغه د مسک ښځتن د «بندګانو خادم»و. خو باچا خان فخر افغان په پيښور که نه و چې ورشم او زما سره د خدای د بنده په ځير مرسته وکړي. هغه مهال چې پخواني شوروي اتحاد په افغانستان يرغل وکړ، باچا خان د ټول افغانستان روانه بخوله(فاجعه) د «روس او امريکې» جنګ وګاڼه. په پيښورکي د پير صاحب سيد احمد ګيلاني مشر وراره کوماندان و.دغه منلي کوماندان ورور د ګرين هوټل منيجر ته خپل دوه پيژاند کارډونه ورکړل او ورته ويې ويل چې زه د هغه ميلمه يم او که زما(ځيرکيار) سره

ځوک له زور نه کار اخلي، باید د هوټل موظف منیجر فوراً کوماندان صاحب خبر کړي. زه د پیر صاحب او کوماندان صاحب له اخلاص نه مننه کوم. یو ځو ورځي وروسته چي مازیګر هوټل ته ورستون شوم، منیجر راته وویل چي افضل خان لالا ټلفون کړی دی چي دی (منیجر) به په هوټل کي زما د حفاظت مسول وي او هغه ته به سم دلاسه ټلفون کوي. هغه مهال ما د افضل خان لالا سره پیژندګلوي نلرله. زه پوه شوم چي دا کار به ډاکتر ماما کبیر ستوري کړی وي. افضل خان لا لا زړه ور او زړه سواندي پښتون مشر و. ما هغه لیدلی نه و. خو کله به چي جرمني ته راغی، نو ماته به ډاکتر ما ما کبیر ستوري او نومیالي افغان افضل خان لالا ټلفون را کاوه. پیاوړیـه مشره افضل خان لالا! ستا سر د ځینو نـورو په شان د خیټي لاندي نه و، بلکي د اوږو د پاسه و. ته میړنی وی – هغسي میړنی چي په ویـر او په سندرو کي یادیږي. زما عالمه مشره! ستا «پښتون قامي وحدت» (۱۹۹۶) رسالي (نومبر ۱۹۹۶) سره زه موافق یم چي: « د یویشتمي صدۍ اغاز باید دا فرق راولي چي د پښتنو د وحدت مسله د جبر په ځای د امن، برداشت، افهام و تفهیم په قامي رواداری او زغـم تر سره شي نو په دنیا او خصوصاً دي سیمه کي به د امن او خوشحالی یو نوی دور پیل شي.» او س به موږ لوستونکي د افضل خان لالا د یـوې مهمي مرکي سره اشنا کړو چي د منلي سیاسي او کلتوري ژورنالیست محّمد اصف وردګ سره یي کړي وه او د نیول شوي افغانستان د مشرتابه ملي – افغاني ظرفیت په ډاګه کوي

**«زه دا حق نه لرم چي افغانستان ته خپل کور واویـم»! د لالا چغه**

«زه دسکول[ښوونځی] له وخته په دی ذهن یم اوداسیاسی مفکوره می ده چی پښتانه شته اوقام[ملت] نشته. قام په ۱۸۹۳کال کی انګریزانوویشلی دی، دهغه خاوره یی تقسیم کړی ده.... لـراوبرچی زه اورَم ماته تری ډیردرد رارسیږی اوددی نه دا معلومیږی چی موږ په لاشعوری توګه دغاصب هغه عمل منو.
په افغانانو(پښتنو) کی لراوبرنشته. اوس هم زه تاسوته وایم چی پښتون یوقومی وحدت و، یو قومی وحدت دی اویوقومی وحدت به په خپله ترلاسه کوی. دازمایقین دی ځکه چی دایی فطری حق دی، دایی قانونی حق دی، داتقسیم نورداسی نشی پاتی کیدای، داقوم به سره یوکیږی، ځکه دایوواحد قوم دی.
په ۱۸۹۳ کال کی انګریزانو موږله خپله اصلی کورافغانستان نه بهرکړو، په یوه حصه باندی یی دانوم«افغانستان» پریښود اونوری دری توکری یی ځنی وشلولی اوپه هغی باندی یی داسی نوی نومونه کښیښودل چی له هغه زاړه نوم سره یی هیڅ رابطه نه وه، ځکه هغوی غوښتل چی داجذبه پاتی نشی اوختمه شی...... نـوماد پـارلمان په اولنی تـقریرکی صوبی ته پښتونخوا وویله نودقومی اسمبلی سپیکر(ویاند) چی هغه په خپله پښتون و، ترین و، دایوب خان زوی ګوهرایوب و، زه یی منع کړم، هغه وویل چی په پاکستان کی دپښتونخوا په نوم هیڅ ځای نشته، نودغه وخت ماپه اسمبلی کی په استحصال باندی خبره کوله.....
ماویل چی زه په استحصال خبره کوم نود دی نه زیات استحصال شته چی زه پښتون یم زه خپل تشخص غواړم اوتاسی وایی چی نه! ستاسی خپله پیژندګلوی اوتشخص نشته...نوبیـاسپیکرماته وویل چی ته یی ویلی شی خو د خپلی پارټی اوګوند له طرفه نـه [افضل خان لالا د ولسمشر ایوب خان ځوی ته ویلي وو چي د پاکستان مفکر محّمد اقبال د افـغانون لـیډرشیپ منلی و: اسیا یک پیکر آب و ګل است* ملت افغان در آن پیکر دل است* از فساد او فساد اسیا* در کشاد او کشاد آسیا. په افضل خان لالا چغـه وشوه چي اعدام دي شـي. خو هـغـه ورغبرګه کـره چي لـومړی بایـد عـلامـه محّـمد اقبـال اعـدام شـوی وای ځکه چي د انګریزانو د واکمنی په مهال یي پـه خپل مشهورشـعـر کي د افغانستان مشري منلي وه]-ځیرکیار.

وردګ صیب! زموږد افغانستان د پارلمان یوغړی زموږ د اېریدو یوملګری ته ویلی وچی که دلته کی تاسی پوره غورځنګ جوړکړی اود وحد ت خبره کوی نوصحی ده اوکه پوره غورځنګ نه وی نودا بیاموږته تاوان دی.نو زه دغو وروڼو ته

داسی وایم چی تاسی چی د ډیورنډ دکرښی خبره کوی نوپه داسی اندازکی یی کوی لکه په موږچی ډیراحسان کوی لکه دوی چی د دی نه د سره خبرنه وی داپه موږ احسان نه دی داعمل انګریزد ټول پښتون(افغان) سره کړی دی اوقامی وحدت یوازی د لاندی پښتنومسله نه ده بلکی د ډیورنډ کرښی پوره قام ویشلی دی، دایوقامی مسله ده، دا یقیناً یوغورځنګ غواړی خو د دی دامطلب هیڅکله نه دی چی ګنی دغه غورځنګ به دلته جوړیږی اوفقط موږبه ورته وده ورکوو. دا د پورته افغانانوهم وظیفه ده چی خپل سیاسی رول ولوبوی اوحامد کرزی صیب او نورو ټولوته داخبره کوم چی که په ویزه باندی پښتانه افغانستان ته ځی نوبیاخوپه غیری شعوری توګه موږ دغه استعماری کرښه خپل سرحد وټاکه. کم ازکم افغانانوته خوباید دپاسپورټ اود ویزی ضرورت نه وی لکه څنګه چی دانګریزانوپه وخت کی نه و. خدای دی وکړی چی دوی زما په خبرو پوهیدلی وی....».

**وردګ:** قدرمنه مشره داسی می اوریدلی دی کله چی تاسوننګرهاراوکابل ته تشریف وړی وو په ویزه تللی وی، دا رښتیاده چی خپل وطن ته په ویزه تللی وی؟

**خان لالا: وردګ صیب! ماپه جلال ابادکی په خپله ویناکی وویل چی ماته ډیرلوی افسوس دی چی زما دا دویم واردی چی خپل ملک اووطن افغانستان ته زه په ویزه راغلی یم. د دی نه مخکی زه د انګریزانوپه وخت کی هم راغلی وم په هغه وخت کی زه په ویزه نه یم راغلی. زه افغان یم او افغانستان چی زه یی خپل کورګڼم چی هغی ته زه په ویزه راځم نو د هغی خو دا ښکاره او صفا مطلب دی چی زه دا حق نه لرم چی افغانستان ته خپل کور ووایم.».**

وبیښ ژورنالیسټ منلي محمداصف وردګ دغه مرکه په جرمنی کی دافضل خان لالاسره د زییزکال ۲۰۰۷ د جون په دوهمه اونی کی کړی وه چی د لمریز کال ۱۳۸۶دغبرګولی او دسپوږمیزکال ۱۴۲۸ دجمادی الاول سره سمون خوري. محمداصف وردګ ددغی ارزښتمنی مرکی ټول متن په لیه نومی مجله کی خپورکړی دی: لیه، دځرک مدنی اوکلتوری ټولنی دری میاشتنی خپرونه، پرله پسی ګڼه اومه اواتمه، ۱۳۸۶ لمریز پسرلی اووړی، ۲۰۰۷. د مرکی سرلیک دادی: « خپل ملک او وطن افغانستان ته په ویزه راغلی یم»، مخونه:۳۹تر۵۲ اومخ ۶۱ زه له منلی محمداصف وردګ نه ډیره مننه کوم چی ماته یی ددغی درنی مرکی د استعمالولو اجازه راکړه. ډاکترخیرکیار(۲۵ اکتوبر۲۰۰۷ ، جوزا ۱۴، ۱۳۸۶لمریز)

امریکا، ۲ نومبر ۲۰۱۵= ۱۱ لړم ۱۳۹۴